# لیونی لیوه



لیکوال: داکتر معمار حشمت الله اتمر

پیخلیک: زمری / کال ۴۰۶ [illegible]ږدی

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library



## لیکي پوهه:

**سرلیک:** لېونی لېوه

**لیکوال:** ډاکتر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**اېډېټور:**

**د پخښنتی ډیزان:** ډاکتر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**خپرندوی:**

**چاپشمېر:** ۳۰

**چاپ نېټه:** میاشت – زمری / کال ۱۴۰۶

**واټس اپ:** +۹۳۷۹۹۳۷٦۹۹۸

**برېښنالیک:**

atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له لیکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې ترې د ګټې اخیستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېونی لېوه
...............

# لړلیک

**سرلیک** **چوپړی**


**پخښتی........................................................................ ۱**
**بسم الله الرحمن الرحیم ..................................................... ۲**
**لیکي پوهه:................................................................ ۳**
**لړلیک ..................................................................... ٤**
**تراڼ (پیل، شروع، برید)................................................... ٥**
**د یادښتونو له پاره:.......................................................... ۷**
**کیسه، داستان یا ناول: ...................................................... ۸**
**د چاپ شویو کتابونو لېست.................................................... ٥٤**
**د کار لاندې کتابونو لېست ................................................... ٥۹**
**د امکان او وخت په صورت کې................................................ ٦۰**
**د پخښتی څټ .............................................................. ٦۱**

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېونی لېوه
...............

## تراڼ (پیل، شروع، برید)

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلّا اللَّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِه .

بې پایه ستاینه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاینات یې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقیقت له پېژندلو پرته جوړ کړل. هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پیدایښت یوه حتمي لامل دی. عظمت، د ټولې نړۍ موجودیت، د ناڅاپه څخه راوتل، حق د رسیدو جوهر په یوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ یوه له لوړو وسیلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**
دا ځل مې و غوښتل د کوشنیانو(کوچنیانو)، تنکیو ځوا نانو له پاره ښکلی داستان (کیسه، یا ناول) ولیکم او د خپلو کتابونو مینه والو او لوستونکو سره یې ګډ (شریکه) کړم.

زما د کتابونو مینه وال یوازې معماران او انجینران نه دي، نه باید اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو لیکونو کې توپیر راوړم چې د هرې ځانګې مینه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړي چې لیکنې مې توپیر و لري او هم به مې مینه وال ډېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېونی لېوه

...............

**پاکه ربه!**

زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وینو او نه یې پېژنو. زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دین له سپېڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

**یادونه:**

- د نظر ټولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هېله کیږي چې، خپلې غوښتنې او وړاندیزونه د دې کتاب د بیا کتنې له پاره، زما سره ګډ (شریکه) کړئ.
- انځورونه د ګوګل سایټ نه د داستان مطابق اخیستل شوي دي.

Whatsapp: ۰۰۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸

په در نښت

ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیونی لیوه
...............

## د یادښتونو له پاره:

۱- ..........................................................................

۲- ..........................................................................

۳- ..........................................................................

۴- ..........................................................................

۵- ..........................................................................

۶- ..........................................................................

۷- ..........................................................................

۸- ..........................................................................

۹- ..........................................................................

۱۰- ......................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کیسه، داستان یا ناول:**

عجب ګل یوه تکړه ځوان او ښه کروندګر(بزګر) و.

هغه به هره ورځ کروندو ته، ته.

الته به یې کار کوه.

تر ناوخته به الته و.

ماښام به یې بېرته حرکت کوه.

عجب ګل به د ماښام لمونځ هم په لاره کې کوه.

هغه کوم لاسي څراغ نه درلود.

هغه به هر ماښام آسمان ته کتل او د سپوږمۍ ننداره به یې کوه.

کوم وخت چې به سپوږمۍ د ۱۰ نه تر ۱۸ مو ورځو وه، ژر، ژر به کورته، ته.

په اوړي کې به یې لو کوه.

هغه به د لو په وخت کې ننګرهار، کنړ او لغمان ولایتونو ته سفر کوه، وروسته به لوګر ته، ته او په مني کې به کابل ښار ته، ته او بیا به د انګور ټولولو دپاره کابل ولایت شمالي ولسوالیو لکه:
شکردره، فرزه، قره باغ، کلکان، میر بچه کوټ او ګلدرې ته، ته.
هغه په انګور ټولونو کې خورا چابک و.
هغه ځان له پاره یو ښکلې انار او بهي ونو لښتو نه کجاوه جوړه کړې وه.
دا کجاوه ډېره کلکه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېونی لېوه
...............

کوم وخت چې به انګورو ټولولو د پاره روانېده، کجاوه به يې هم شا ته اچوه او کلکه به يې تړه.

بيا به باغ ته ننوت او د انګورو په ټولونې به يې پيل کوه.

تر نورو کاريګرانو به يې ډېر انګو شکول او په کجاوې کې به يې ايښودل.

بيا به يې هغه درمند ډاک ته وړل او الته به يې خپله کجاوه پر ځمکې ايښوده او د انګورو وښکاړي به يې ورو، ورو پر ځمکې ايښودل.

بيا به بېرته انګوروتاکو ته، ته او خپله کجاوه به يې د انګورو ډکوه.

هغه به هره ورځ، ډېر کار کوه.

په هر راز کار کې ډېر صادقه و.

هغه پر ټولو ګران و.

عجب ګل يوه چوړکۍ هم درلوده او د هغې نه به يې د انګورو وښکاړو په شکونې او خرابو انګورو دانو لرې کولو کې ګټه اخيسته.

همدا راز به يې په چوړکۍ هندوانې او خټکي څيرې کول او خوړل.

د بادرنګو په وخت کې به يې بادرنګ له پوسته کول.

کله نا کله به يې پر هغې لښتې پرېکوې او کجاوې به يې ترې جوړوې او په بازار کې به يې پلورې.

کلونه تېر شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېونی لېوه
...............

هغه به په پسرلي کې تودو سيمو بيا به اوړی په لوګر او پغمان منی به کابل شمالی ولسواليو او ژمی به يې په لغمان کې تېراوه.

څه کلونه نور هم تېر شوو.

هغه به تل د پخوا په څېر پسرلی، اوړی، منی او ژمي په يادو سيمو کې تېراوه.

هغه په هرې سيمې کې ډېر ملګري درلودل.

ملګرو به يې هغه ته ويل:

ياره!

ريښتيا چې ته عجب سړی يې!

تر څو به يواځې (مجرد) ګرځې؟

ښځه وکړه!

کور به دې ودان شي.

د ماشومان خاوند به شې.

زوی او لور به پيدا کړې.

د لا له هاندیَ به خلاص شې.

په يوه ځای به اوسې.

کور به جوړ کې.

هغه به خندل او ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر ما مړندې وهئ.

زه غریب سړی یم.

ټوله ورځ مزدوري کوم.

نه پیسې لرم او نه هم پوله، پټی.

ما ته څوک ښځه را کوی؟

ملګرو به یې ویل:

ته څه وایې؟

امر کوه!

مونږ په خدمت کې یوو.

ښځه پیدا، پیدا ده.

ته موافقه وکړه.

هغه به خندل او څه به یې نه ویل.

څه موده نوره هم تېره شوه.

هغه به پیسې غونډوی او خپلې مشرې خور کور کې به یې ایښودې.

کال بیا د انګورو ټولونې وخت ورسېد.

هغه به انګور ټولول، د کړنې برخې انګور به یې خرڅول او پیسې به یې ټولوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېونی لېوه

...............

وروسته د کوهدامن نه سرای خوجې سیمې ته لاړ او الته يې د انګورو په شکونې پیل کړ.

انګور خلاص شوو.

یوه ملګری يې چې د سرای خوجې نه وو هغه ته و ویل:

ګوره عجب ګله!

ما تا ته یوه ښه جلۍ، لیدلې ده.

هغه د خورد آغا لور ده.

هغه باغونه او څه ځمکې هم لري.

زوې يې درلود.

خو!

په خبښ کړي ماین برابر او شهید شو.

بل کوم زوی نه لری.

بله مشره لور يې هم واده شوه.

هغه غواړي چې زوم يې ورسره ګډ ژوند وکړي (خانه داماد) شي.

خور دې راوله چې هغه وګوري.

بیا به څو نارینه د جومات ملا امام په شمول د هغې کور ته لاړ شوو او د هغې نه به رسمي رایباري وکړو.

عجب ګل و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه او دومره طالع؟

ملګري يې و ويل:

سوچ مه کوه!

يواځې هو و وايه!

هغه و منه!

بيا يې خپله خور کومه چې د لغمان ولايت، قرغيو ولسوالۍ کې يې

ژوند کوه کابل ته را وسته.

هغې واده کړې او يوه زوی او دوې لوڼې يې درلودې.

هغوی ماسپښين کابل ته ورسېدل.

بيا د شرين آغا کورته لاړل کوم چې د سرای خوجې په سيمې کې شتون درلود.

د ملګري کور يې چندان لرې نه وه.

دواړو کورونه (د خورد آغا او شېرين آغا) په يوه کلې کې وه.

د خورد آغا بره او د شېرين آغا کور، کوزه وه.

کورته نږدې شوو.

دروازه يې وټکوه.

دروازې ته د شېرين آغا و وت.

د عجب ګل او د هغه د خور او خوريانو په ليدو ډېر خوشحاله شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېونی لېوه
...............

بیا یې د هغوی سره روغبړ وکړ.

لږ وروسته هغوی یې د میلمه خونې ته وبلل.

بیا یې خپلې ښځې ته غږ کړ.

د هغه خور یې د خپلې ښځې سره ور وپېژانده.

بیا د هغه ښځه د باندې شوه.

د تناره کوټې ته، لاړه.

خس یې نغري کې کېښودل او اور یې بل کړ.

غټ چایجوش یې د نغري پر سر کېښود.

بیا یې چای دم او مېلمنو ته یې راوړ.

د چای سره پاخه نخود او چاکلېټ هم وو.

هغوی ټولو په مزه، مزه چای و څښل.

بیا د ښېرین آغا ښځې و ویل:

نور چای دم کړم؟

عجب ګل او د هغې خور و ویل:

نه!

بس دی!

ډیر مو و څښل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا شېرین آغا و ویل:

اوس خو مازیګر(مازدیګر) دی.

رایباریَ ته به، سبا لاړ شوو.

عجب ګل و ویل:

سمه ده!

څرنګه چې ستا خوښه وي.

بیا د ښېرین آغا ښځې ماشومانو ته غږ کړ او و یې ویل:

ژر شئ!

هغه سور چرګ و نیسئ.

د عجب ګل خور و ویل:

په چرګ څه کوې؟

هغې و ویل:

چرګ حلاله وو او د شپې له پاره به یې ښوروا کړو.

د عجب ګل خور و ویل:

چرګ ته اړتیا نه شته!

څه چې تیار، هغه د یار.

د شېرین آغا ښځې و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېونی لېوه
...............

دا ته څه وايې؟

ته لمړی ځل زمونږ کور ته راغلې.

دا به هرو مرو حلاله وو.

ماشومانو چرګ و نيوه او شېرين آغا ته يې يووړ.

هغه هم چرګ حلال کړ.

د شېرين آغا ښځې چرګ واخيست او تناره کوټې ته لاړه.

بيا شېرين آغا و ويل:

تر ماښامه ډېر وخت دی.

راځئ چې د ماشومانو سره باغ ته لاړ او انګور وخورو.

ماشومان ډېر خوشحاله شوو.

په خوشحالۍ سره د کوره و وتل.

څو دکيکې وروسته باغ ته ورسېدل.

ماشومانو د انګورو په شکونه پيل کړ.

شېرين آغا و ويل:

په انګورو خاوره ناسته ده.

شکولي انګور واخلئ او د لښتي په اوبو کې يې پاک پرېمنځئ، بيا يې وخورئ.

ماشومانو انګور و خوړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شېرين آغا هم څه انګور د شپې ډوډۍ له پاره وشکول او لاسي کوشنۍ ټوکرۍ کې يې کېښودل.

بيا يې خپل زوی ته غږ کړ.

زوی يې ور نږدې شو.

پلار يې ټوکرۍ هغه ته ورکړه او ويې ويل:

انګور کورته يوسه او مور ته دې و وايه چې ښه يې پرېمنځي، چې د شپې وروسته له ډوډۍ يې وخورو.

هغه و ويل:

سمه ده!

ټوکرۍ يې واخيسته او د باغه و وت.

نورو ماشومانو په لښتي کې لوبې پيل کړې.

عجب ګل او د هغه ملګري هم د رايبارۍ کيسې او پلانونو جوړولو پيل کړ.

هغوی کيسو ته دوام ورکړ.

ماښام شو.

د کلي ملا امام د ماښام آذان ورکړ.

عجب ګل او د هغه ملګري ماشومانوته، غږ کړ.

راځئ چې کورته لاړ شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېونی لېوه
...............

سبا به بیا باغ ته را شوو.

هغوی ټول د باغه و وتل.

ماشومان کور او عجب ګل او د هغه ملګری جومات ته لاړل.

لمونځ یې په جمع ادا بیا کور ته روان شوو.

د عجب ګل ملګري ښځې چرګ پاک کړی او ترخه ښوروا یې پخه کړې وه.

پر تناره یې هم تودې ډوډۍ پخې کړې او ترخه سلاته یې هم جوړه کړې وه.

په سلاتې کې یې ښه مرچ اچولي وو.

ټول د مېلمه خونې (کوټې) ته لاړل.

بیا شېرین آغا تاخچې (تاقچې یا طاقچې) ته نږدې او تېلي څراغ یې واخیست او روښانه یې کړ.

بیا یې بېرته په تاخچې کې کېښود.

د کړکۍ پردې یې کش کړې، ترڅو رڼا د باندې لاړه نه شي.

څو دکیکې نه وې تېرې شوې چه ماشومانو چلمچي راوړ.

هغوی پر لاس مینځلو پیل کړ.

لاس مینځل خلاص او دسترخوان اوار(هموار) شو.

د شېرین آغا ښځې غږ کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېونی لېوه
...............

د ټوکرۍ نه توده ډوډۍ پر دستر خوان کېږدئ.

ماشومانو تناره توده ډوډۍ پر دستر خوان کېښوده.

د شېرین آغا ښځې د ښوروا لویې کاسې راو ړې او پر دستر خوان یې کېښودې.

بیا یې و ویل:

په ښوروا کې ډوډۍ ما ته کړئ.

بیا یې د چرګ غوښو کاسې راوړې او پر دستر خوان یې کېښودې.

لږ زنډ وروسته یې د سلاتې کاسې راوړې او هغه یې هم پر دستر خوان کېښودې.

وروسته یې د اوبو جګ او پیالې هم پر دستر خوان کېښودې.

بیا شېرین آغا و ویل:

بسم الله!

پیل کړئ.

ټولو د ډوډۍ په خوړلو پیل کړ.

ډوډۍ و خوړل شوه.

بیا دسترخوان ټول او ماشومانو د لاس مینځلو اوبه راوړې.

لاسونه پرېمنځل شوو.

بیا چای ورسېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېونی لېوه
...............

په دې وخت کې د عجب ګل خپل کوشنی (کوچنی) غږ ډبلی (راډیو) له تاخچې واخیست او روښانه یې کړ.

په غږ ډبلي کې خبرونه او ورپسې ښکلې نغمې اوبدلې پیل شوې.

ټولو ورته غوږ نیولی و.

چوپا چوپي وه.

شپه پیل شوه.

ماشومان هرې خوا بیده شوو.

عجب ګل او د هغه ملګری هم د ماسخوتن لمانځه ادا کولو د پاره جومات ته لاړل.

نیمه ګړی وروسته بېرته ستانه شوو.

بیا شېرین آغا و ویل:

راځئ چې مونږ هم شپه جوړه او بیده شوو.

شپې هسې لنډې دي.

سهار لمانځه ته، پاڅېدل هم ستوزمن کار دی.

عجب ګل و ویل:

ته رېښتیا وایي.

سمه ده!

بیا شېرین آغا توشکې اوارې او بالښتونه یې پرې کېښودل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښادرونه يې د با لښتونو پر سر کېښودل.

بيا له کوټې و وت.

د اوبو ښښلو سورايي او پياله يې راوړه، د عجب ګل سرته يې کېښوده او هغه ته و ويل:

دا اوبه دي؟

د ترږېدو په وخت کې به وڅښئ.

عجب ګل مننه وکړه.

بيا د هغه ملګري و ويل:

شپه په خير!

عجب ګل هم و ويل:

تاسو شپه هم په خير.

هغوی ټول بيده شوو.

سهار شو.

د جومات نه د آذان غږ ورسېد.

عجب ګل تشناب ته لاړ او اودس يې وکړ.

بيا د کوټې و وت.

په انګړ کې د هغه ملګری هم په انتظار و.

بيا دواړه جومات لاړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمونځ يې په جمع ادا کړ.

ګړی الته وو.

لمر وخوت.

د لمر وړانګې هرې خوا خپرې شوې.

هغوی بېرته کور ته راغلل.

سهار چای دم او تازه د غوا شيدې هم تودې وې.

هغو ټولو چای و څښل بيا ځنډ وروسته دستر خوان ټول شو.

بيا د عجب ګل ملګري خپلې ښځې ته و ويل:

تاسو ځانونه جوړ او خورد آغا کور ته رايباری ته لاړشئ.

هغوی و منه او ځو دکيکې وروسته تيار شوو.

بيا هغوی د خورد آغا کورته لاړل.

يوه ټوکري ښکلي او تازه انګور يې هم له ځانه سره اخيستې وو.

کور ته ورسېدل.

د کور دروازه يې وټکوه.

دروازې ته د خورد آغا ښځه راغله.

دروازه يې خلاصه او ميلمنوسره يې ستړي مشې وکړه.

بيا د عجب خور او د ملګري ښځې يې و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



میلمه مو په کار دی؟

هغې و خندل او ویې ویل:

هو!

د ننه راشئ.

هغوی کورته د ننه شوو.

میلمه کوټې ته لاړل.

چای ورسېد.

بیا د خورد آغا ښځې چای په پیالو کې و وېشه.

خبرې پیل شوې.

بیا په خبرو، خبرو کې د عجب ګل ملګري ښځې د رایباریٓ خبرې پیل کړې.

بیا د خورد آغا ښځې و ویل:

زه به  دشپې د خورد آغا پلار او تره سره خبرې وکړم.

تاسو کولای شئ، سبا همدغه وخت بیا راشئ.

د هو او نه ځواب به درکړو.

بیا مېلمانه پاځېدل.

د خورد آغا ښځه هم د هغوی سره تر دروازې و وته.

مېلمانه بېرته کورته راغلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېونی لېوه
...............

عجب ګل او د هغه ملګری هم په کور کې وو.

ماشومانو د باندې لوبې کوې.

عجب ګل ملګري و ویل:

څنګه شو؟

د هغه ښځې و ویل:

د خورد آغا ښځې و ویل:

زه به د خورد آغا او د هغه تره سره خبرې وکړم.

تاسو کولای شئ سبا همدغه وخت راشئ، د هو او نه ځواب به درکړو.

د عجب ګل ملګري و ویل:

سمه ده!

کار به وشي.

بیا عجب ګل ملګري عجب ګل ته و ویل:

څه چې باغ ته لاړ او ورځ به الته تېره کړو.

ماشومان به هم راشي.

عجب ګل و ویل:

سمه ده!

بیا هغوی له کوره و وتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېونی لېوه
...............

کور نه د باندې ماشومانو لوبې کوې.

هغوی هم د عجب ګل او ملګري سره یوځای شوو.

ټول باغ ته لاړل او تر ماښامه التـه وو.

د غرمې ډوډۍ یې هم التـه وخوړه.

بیا یې څه منې وشکوې او ماښام یې له ځانه سره کور ته یوړې.

د شپې ډوډۍ یې وخوړه او بیا بیده شوو.

سهار بیا هغوی ښځې د خورد آغا کورته ولېږ.ې.

د خورد آغا ښځې هغوی ته هو(مثبت، هوکړه) ځواب ورکړ او هغوی ته یې و ویل:

سبا دا وخت نارینه دې راشئ.

مونږ به تاسو ته دسمال درکړو.

هغوی په خوشحالۍ سره بېرته کورته راغلل.

بیا د عجب ګل ملګری، عجب ګل او د هغه خور ته یې مبارکي ورکړه.

هغوی هم د هغه نه مننه وکړه.

ورځ بیا په باغ کې تېره شوه.

شپه بیده او سهار وختي له خوبه پاڅېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عجب ګل ملګری، ورور، د کلي مشر او ملا امام سره يوځای، کوشنۍ ډله برابره شوه او د خورد آغا کور ته روان شوو.

دروازې ته ورسېدل.

دروازه يې وټکوه.

دروازې ته د خورد آغا وراره راغی او دروازه يې خلاصه کړه.

هغه ټولو ميلمنو سره روغبړ وکړ، بيا يې هغوی نه د ننوتو غوشتنه وکړه.

بيا ټول د مېلمه خونې ته لاړل.

په دې وخت کې خوردآغا هم مېلمه خونې ته ننوت او د ټولو سره يې روغبړ وکړ.

چای ورسېد او د خورد آغا وراره هغه په پيالو کې و وېشه.

خبرې اترې پيل شوې.

بيا د کلي ملا امام د رايبارۍ خبره ياده کړه.

خورد آغا و ويل:

دا چې عجب ګل د شېرين آغا کلک ملګری، ښه او خواريکښ سړی دی، زمونږ دوستی وشوه.

بيا يې خپل وراره ته و ويل:

د شېرينۍ پتنوس (پطنوس) او دسمال راوړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېونی لېوه

...............

څو دکیکې لا نه وې تېرې شوې چې د خورد آغا وراره پتنوس او دسمال راوړ او د ملا امام مخ کې یې کېښود.

هغه هم یوه آیت ولوست او بیا یې د شرین آغا مخ کې کېښود.

وروسته ټولو یوه بل ته مبارکي و ویل.

څو دکېکې وروسته ملا یوه دعا وکړه او مېلمانه له ځایه پاڅېدل.

شېرین آغا دسمال او شېریني واخیسته او د رسم په توګه یې څه پیسې په پتنوس کې کېښودې.

بیا تولو د خورد آغا نه مننه وکړه او د خونې و وتل.

خورد آغا هم د هغوی سره تر دروازې و وت.

میلمانه خپل کورته ورسېدل.

انګړ ته د ننه شوو.

عجب ګل خور او خوریان یې د مېلمه په خونې کې وو.

شېرین آغا دسمال او شېرینۍ سره مېلمه خونې ته ننوت او د عجب ګل پر سر یې شېریني او نکول (نقل) و پاشل او هغه ته یې مبارکي و ویله.

بیا د عجب ګل خور پاڅېده لړ شېریني یې د شېرین آغا نه وا خیسته او د عجب ګل پر سر یې و پاشه او هغه ته یې مبارکي و ویله.

هغه هم د شرین آغا د مرستي نه مننه وکړه.

ورو، ورو غرمه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېونی لېوه

...............

د غرمې ډوډۍ وخوړل شوه.

بیا عجب ګل د خپلې خوراو خوریانو سره د ځایه پاڅېدل، د شېرین آغا نه ډېره مننه وکړه او هغه ته یې و ویل:

خیر یوسئ.

تاسو زمونږ سره څو ورځې او شپې په تکلیف شوئ.

اوس مونږ غواړو بېرته خپل کورته لاړ شوو.

شېرین آغا هغه ته د شپې پاتېکېدو ست وکړ.

هغوی مننه وکړه او د مېلمه خونې نه و وتل.

شرین آغا، د هغه ښځې او ماشومانو د هغوی سره تر دروازې و وتل.

هغوی ته یې مخه ښه و ویل.

هغوی لمړي پاخه سړک ته ورسېدل، بیا په ګاډي (بس) کې وختل او کابل ښار ته لاړل.

الته بیا پل محمود خان او وروسته د لغمان په موټرو کې کښېناستل او درې ګړۍ وروسته، خپل کورته ورسېدل.

میاشت وروسته یې کوژده او کال ورسته یې واده هم وکړ.

د واده نه وروسته هغه د پخوانۍ پرېکړې پر بنسټ د خورد آغا په کور کې پاتې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېونی لېوه
...............

خورد آغا هم هغه ته یوه لویه کوټه ورکړه کومه چې تشناب او حمام تر اړخ وه.

دهغوی ډوډۍ یوه ځای وه.

عجب ګل به د ورځې کار کوه او دشپې به کورته را ته.

منی او بیا د ژمې ساړه بادونه پیل شوو.

د انګورو ټولونه هم پای ته ورسېده.

بیا عجب ګل خورد آغا ته و ویل:

اوس کارونه نه شته!

زه غواړم لرګو او خسو پسې، غره ته لاړ شم او د ژمې د پاره یې ذخیره کړم.

خورد آغا و ویل:

دا ښه خبره ده!

خو!

پام کوه!

وختي لاړ او وخته بېرته راشه!

کوښښ کوه یواځې لاړ نه شئ!

هغه و ویل:

کومه ستونزه شته؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېونی لېوه
...............

خورد آغا و ویل:

الته د ژمي په موسوم کې لېوان راکښته کېږی، هغوي ډېر وږی او تا به وداړي.

عجب ګل و ویل:

سمه ده!



(c) ketabton.com: The Digital Library

لېونی لېوه

...............





(c) ketabton.com: The Digital Library

لېونۍ لېوه

...............



څو ورځې هغه به وختې ته او وختې به بېرته راته.

هغه د ځانه سره تبر ګی او چوړکۍ هم درلوده.

هغه به غټې پنډونه جوړول.

پر شا به يې تړل او کورته به يې راوړل.

څو ورځې تېرې شوې.

بله ورځ کوم و خت چې هغه کورته راته په لاره کې يې يوه سپين ځناور وليد.

له لرې لکه سپين سپې ښکارېده.

عجب ګل حيران شوه چې په دې دښتې کې سپين سپی څه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې د ځانه سره و ویل:

کېدای شي په مني کې له کومې رمې پاتې وي.

هغه په لارې ته او عجب ګل ته به یې کاته.

هغه ځناور لېوه و.

لیوه موړ و.

عجب ګل هم ستړی او کلي ته نږدې و.

لیوه د هغه خوا نه تېر شو.

عجب ګل پوی شوه چې هغه سپی نه بلکه سپین لیوه وه.

عجب ګل د سترګو لاندې هغه ته کتل تر څو هغه پناه شو.

عجب ګل ډېر ډارشوی و.

خو، خپل ځان یې ونه بایله.

ورو، ورو یې ځان کورته ورساوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېونی لېوه
...............



تېره شوې کيسه يې کور کې وکوه.

ښځه يې ډېره خواشينې شوه او هغه ته يې و ويل:

نور غره ته، مه ځه!

الته لېوان دي.

تا به وداړی.

زما پلار، تا ته وختي هم ويلي و.

هغه و ويل:

دلته ژمی ډېر سوړ وې.

لرګو او خسو ته اړتيا شته.

بيا يې ښځې ته و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماته یوه چل راغی.

زه به هره ورځ الته لاړ شم.

له ځانه سره به غټه کجاوه واخلم او په کجاوې کې به لرګی راوړم.

د خطره په وخت کې به ځان د کجاوې لاندې پټ او خوندي وساتم.

ښځې یې و ویل:

نه!

د دې خبرې تېر شه!

لېوان ډېر زیرک دي.

تا به و داړي.

هېڅوک به نه وي چې تا خلاص کړي.

هغه و ویل:

ته مه وېرېږه!

کومه ستونزه نه شته.

ماښام شو، شپه شوه بیا هغه په سوچونو کې بیده شو.

سهار وختي له خوبه پاڅېد .

اودس او لمونځ یې وکړ.

چای یې وڅښل او بیا تبرګی، رسی، چوړکی یې واخیسته او په کجاوې کې یې کېښوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې کجاوه شا ته واچوه او د دروازې و وت.

آیت الکرسي یې و ویله او پر ځان یې چوپ (چوف) کړه.

بیا ورو، ورو د غره خوا روان شو.

هوا روښانه او ساړه وه.

پر ځمکې سپینه واوره وه.

ونې او بوټي هم سپین ښکارېدل.

شاوخوا هم سپین وو.

هغه ورو، ورو مخ ته، ته او شا ته به یې هم کتل.

د غره لمنې ته ورسېد.

هرې خوا بوټې ډېر وو.

هغه کجاوه له شا (څټ) ښکته کړه او د یوه بوټې خوا ته یې کېښوده.

بیا یې شاوخوا ته وکتل.

څه نه په سترګو کېدل.

هغه تبر ګی او رسۍ یې له کجاوې و باسه.

رسۍ یې د کجاوې پر سر واچوه.

بیا تبرګی یې پر اوږه کېښود.

چوړکۍ یې هم د کجاوې نه را واخیسته او په جب کې یې واچوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېونی لېوه

...............

بیا یې شاو خوا و کتل.

چوپه چوپتیا وه.

بیا هغه د بوټو په وهلو پیل کړ.

څه بوټې یې و وهل.

بیا ودرېد او غوبنتل یې چې دمه وکړي.

په دې وخت کې د کوم شي څرپه هار شو.

شاو خوا یې وکتل.

له لرې یې یوه لېوه تر سترګو شو، کوم چې د هغه پر لور روان وه.

هغه ډېر وارخطا شو.



بیا یې په یاد شو چې یواځنۍ لار، هماغه کجاوه ده.

ځان یې کجاوې ته نږدې کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېونی لېوه
...............

بیا لېوه په منډو شو.

عجب ګل کښېناست او کجاوه یې پر سر کېښوده.

لېوه منډه تېزه کړه.

ځان یې عجب ګل ته ورساوه.

کجاوې ته نږدې شو.

بیا یې کجاوه بوی، بوی کړه.

له کجاوې لږ لرې شو.

ودرېد.

خوله یې آسمان ته ونیوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېونی لېوه

...............



بیا بل لېوه هم ورسېد.

هغوی د خپل په منځ کې په جنګ شوو.

یوه ویل چې زه یې خورم.

بل به ویل:

**نه!**

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېونی لېوه
...............



دا ښکار ما موندلی دی.
بیا بل لېوه لږ لرې لاړ او کښېناست.
لمړی لېوه کجاوې ته مخامخ کښېناست .
او ښکار په انتظار شو.
هغه انتظار کوه چې ښکار د کجاوې لاندې را و وځي او پر هغه ټوپ (حمله) وکړي.
څه وخت تېر شو.
خو عجب ګل د کجاوې د سوریو نه د لېوانو ننداره کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېونی لېوه

...............



څه موده نوره هم تېره شوه.

هغوی په لوبو پیل کړ.

اخوا دېخوا به یې منډې وهې.

کله به یې غېږه نیوه.

یوه بل به یې څم لاوه.

بیا هغه به یې پرېښود او خپله به یې لړ لرې ته.

بیا به بېرته راته.

په غېږو به یې پیل کوه.

یوه بل به یې، څملاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېونی لېوه

...............



لږ ځنډ وروسته بل لېوه پیدا شوه.

هغه لېونی وه.

په منډو، منډو یې ځان کجاوې ته ورساوه.

عجب ګل په بېره شو.

هغه چوړکۍ له جبه و وېسته او تبرګی یې هم خپلې مخې ته کښېښود.

ځان یې د کجاوې په منځ کې کړ.

بیا یې د کجاوې د سوریو نه د لېوانو کنټرول کاوه.

یوه بل لېوه کجاوې ته نږدې شو.

لېوني لېوه پر هغه ټوپ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېونی لېوه

...............

هغه یې د غاړې ونیوه او پر ځمکه یې واچوه.

هغه یې ډېر خوږ کړ.

په دې وخت کې نور لېوان راټول شوو.

هغوی ټولو پر لېوني لېوه حمله وکړه او هغه لېوه یې وژغوره.

څو دکیکې لا نه وې تېرې شوې، چې لیوني لېوه پر بل لېوه حمله کړه او هغه یې د توتکې ونیوه او پر ځمکه یې ګذار کړ.

لېوه غوښتل چې له ځایه پاڅېږي، خو لېوني لېوه هغه ته وخت نه ورکوه او بیا به یې پرې حملې کوې.

نور لېوان ټول او هغه یې هم وژغوره.



(c) ketabton.com: The Digital Library

لېونی لېوه
...............



لېوني لېوه به پر نورو لېوانو حملې کوې او هغوی به يې پر ځمکه غورځول او نه به يې پرېښودل چې کجاوې يانې ښکار ته نږدې شي.

پوره يوه کړۍ يې پر نور لېوانو حملې کړې.

هغوی يې د کجاوې لرې کړل.

هېڅ لېوه به جورت(جرات) نه کوه چې کجاوې ته نږدې شي.

بيا هغه کجاوې ته نږدې شو.

کجاوه يې ټپلو هه.

عجب ګل هم کجاو په لاسونو د ننه خوا نه ټينګه کړه.

لېوه د کجاوې شاوخوا تاو راتاو شو.

بوی، بوی يې پيل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کجاوه یې بیا په لاسونو  و خوزوه.

کجاوه ټینګه وه.

بیا یې شا (څټ) کجاوې ته واړوه او واورې یې پر کجاوې و شېندې.

د کجاوې سورې بند شوو.

عجب ګل کجاوه وخوزوه او واورې ترې تویې شوې.

لېوه بیا شا واړوه او واورې یې پر کجاوې و پاشې.

لېوه دا کار څو ځله وکړ او عجب ګل هم واورې و څنډې.

بیا یې خوله آسمان ته کړه.

اووو....................

بیا د کجاوې تر شاوخوا تاو شو.

د سوریو به یې خپلې پنجې د ننه کوې.

د کجاوې سوري کوشني وو.

د هغه پنجه کجاوې ته نه د ننه کېده.

بیا یې سوچ وکړ.

لږ لرې لاړ او بیا یې خوله آسمان ته ونیوه .

اووو........................

بیا د کجاوې خوا ته کښېناست او د کجاوې شاوخوا یې وکتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېونی لېوه
...............

سر يې ټيټ واچو او کجاوې ته نږدې شو.

بيا يې د کجاوې خوله کومه چې د ځمکې سره وه لاس د ننه کړ.

عجب ګل کجاوه ټينګه کړه.

بيا لېوه لږ لرې لاړ.

کجاوې ته يې وکتل.

د کجاوې شاوخوا تاو راتاو شو.

د کجاوې يوې خوا ته ودرېد.

سر يې ټيټ او منګلو يې پر ځمکې ښخې کړې.

د کجاوې لاندې کيندې يې پيل کړې.

د کجاوې لاندې يوه برخه يې وشکوه او لاس يې د ننه کړ ترڅوعجب ګل و نيسي او د کجاوې نه يې د باندې، بيا يې وخوري.

د لېوني لېوه پنجه (لاس) عجب ګل ته نږدې شو.

عجب ګل ډېر وارخطا شو.

ژر يې چوړکۍ د هغه لېوني لېوه خوا ته ونيوه او د هغه پر لاس (پنچې) يې ګذار کړ.

هغه لږ ژوبل خو څو ځل يې لاس د ننه او عجب ګل هم پر هغه ګذارونه وکړل.

د هغه لاس وينې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېونی لېوه

...............

لېونی لېوه خپل لاس ته نظر کړ.

ګوري چې ژوبل شوی او وينې ترې، رواني دي.

بيا لړ لرې شو.

خوله يې آسمان ته کړه.

اووووووووووو.

بيا يې مخ پر ځنګله منډه کړه.

عجب ګل يې التـه تر کجاوې پرېښود.

په د ې وخت کې نور لېوان پاڅېدل او هغه پسې يې منډې کړې.

د هغه د لاسه نه وينې څڅېدې.

نورو لېوانو به د هغه د لاس وينې څټې.

لېونی لېوه مخکې او نور ورپسې وو.

لږ لرې يې هغه را ايسار کړ.

لېوان ترې تاو راتاو شوو.

د هرې خوا پرې حملې شوې.

هغه يې را ښملاوه.

هر يوه لېوه خوله پرې ولګوه.

هغه يې مردار او د هغه د غوښو پر خوړو يې پيل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېونی لېوه

...............



په دې وخت کې د عجب ګل ورته پام شو.

ويني چې لېوان د لېوني لېوه په غوښو خوړلو چنګاو دي.

بيا يې کچاوه لرې او شاو خوا يې و کتل.

لېوان لري بوخت (مصروفه) وو.

هغه هم کجاوه شاته واچوه او لرګي يې هم الته پرې ښودل.

دوې پښې يې خپلې او دوې نورې يې پور(قرض) کړې.

په منډو، منډو يې کلي خوا روان شو.

څو ګامه چې به لاړ، بيا به يې شا ته کتل چې لېوان ورپسې دي که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېونی لېوه

...............

له وېرې يې سا بنده، بنده کېده.

کور ته يې ځان ورساوه.

کور دروازه، ټينګه وه.

دروازه يې په زوره، زوره سره و وهه.

ښځه يې حيرانه شوه چې څه خبره ده.

دروازې ته يې منډه کړه.

دروازه يې خلاصه کړه.

ګوري چې د دروازې تر شا (څټ) عجب ګل ولاړ دی.

هغه له وېرې لړزېده.

عجب ګل دروازې نه، د ننه شو.

ژر يې کچاوه تر شا خلاصه او په انګړ کې يې ګذار کړه.

ښځې يې و پوښتل:

خيريت دی؟

ولې دې لرګي نه دي راوړي؟

هغه و ويل:

خبرې مه کوه.

بيا په منډه خونې ته د ننه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژر پر توشکې پرېوت.

برستن يې پر سر واچوه او ښځې ته يې و ويل:

ژر شه!

بله برستن پر ما هم واچوه!

ښځې يې و ويل:

څه خبره ده.

هغه و ويل:

لمړی برستنه پر ما واچوه چې له وېرې لړزېږم.

ښځې يې بيا و ويل:

څه خبره ده؟

هغه و ويل:

د پوښتنو وخت نه دی.

ژر برستنه واچوه چې لږ ګرم شم بيا به ټوله کيسه تا ته بيان کړم.

ښځې يې ژر برستنه پر هغه واچوه.

هغه ځان په برستنې کې پټ کړ.

ښځه يې تناره کوټې ته لاړه او ژر يې چای دم کړ.

چای يې هغه ته راوړ او په پيالې کې يې واچوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېونی لېوه
...............

څو دکیکې تېرې شوې.
د هغه ډار لرې او لړزېده یې لږ شوو.
ښځې یې و ویل:
سر دې پورته او یوه ګیلاس خوږ چای و څښه!
هغه سر له برستنې و باسه.
پیاله یې په لاس کې ونیوه.
لاس یې لږ، لږ لړزېده.
ښځې یې پیاله ونیوه او د هغه خولې ته یې نږدې کړه.
هغه د چای پیاله وڅښه.
لړزېده یې ختم او ډار یې هم ورک شو.
لمړی یې یوه برستن لرې بیا یې دویېمه هم لرې کړه.
څو دکیکې وروسته پر توشکې کښېناست.
بالښت یې شا ته کېښود.
بیا ښځې یې هغه ته بله پیاله هم ډکه کړه.
عجب ګل دویېمه پیاله چای و څښه.
څو د کیکې تېرې شوې.
حالت یې سم شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا ښځې ته يې و ويل:

غوږ شه چې پر ما نن څه پېښ شوي وو.

هغې و ويل:

اورم څه پېښه وه او څه در باندې تېر شوي دي؟

هغه تېره شوې کيسه خپلې ښځې ته بيان کړه.

ښځې يې  و ويل:

زما پلار او ما په خپله، تا و ويل چې په غره کې لېوان شته.

هغوی به تا وداړي.

ته يواځې مه ځه!

هغه و ويل:

زه خو غره ته، نه تلم.

ما خو بوټي د غره په لمنې کې وهل او بيا مې کورته راوړل.

ښځې يې و ويل:

په ژمي او واورو کې لېوان مستېږي.

هغوی غرو لمنو ته راځي.

ځينې نور يې د شپې له خوا کور او کلي ته هم راځي.

پسونه او غويان داړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېونی لېوه
...............

ځینې وختونه ګیدړان هم څرګندېږي.

هغوی بیا چرګې او چرګان خوري.

په ژمي کې ښکار نه وي.

هغوي مجبوره کېږي چې سمې (کلي، کور) ته مخه وکړي او خلکو ته زیان (نقصان) ورسوي.

ځیني وختونه نارینه د شپې له خوا پیرې کوي تر څو د هغوی څاروي و نه داړي.

عجب ګل و ویل:

تاسو رښتیا ویل.

ما سوچ کوه چې تاسو ټوکې کوئ.

ما هسې ډاروئ.

په ریښتیا چې په غرونو او د غرونو په لمنوو کې لېوان او نور ځناور شتون لري.

کېدای شي پړانګان او زمریان هم شتون ولري.

باید سړی خپل ځان و ساتی او غرونو ته یوازې او بې وسلې لاړ نه شي.

بیا عجب ګل توبه و باسه او خپلې ښځې ته یې و ویل:
بس!
نور به غره ته چی سره زر هم وګرزي لاړ نه شم.
**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیونی لیوه
...............

## د چاپ شویو کتابونو لیست

۱. معماری افغانستان
۲. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری
(بخش شفاخانه ها)
۳. راهنمود طلایې
(برای اساتید انستیتوت های تخنیکې و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد اول
٥. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
۷. معماری اصیل شهر کابل (مرادخانی)
۸. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
۹. افغانستان در قرن تکنالوژی
۱۰. زونبندی اقلیم و زلزله افغانستان
۱۱. صدقه جاریه / دنیای انجینری
۱۲. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد اول (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۱۳. داستان حقیقی با مقیاس معماری
۱٤. فرار از کشور- با تصاویر مستند
۱٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
۱٦. پخسه در افغانستان
۱۷. بنیا نگذاری اولین مساجد توسط افغانها در آسترلیا
۱۸. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد دوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېونی لېوه
...............

١٩. منار جام - الهامی برای قطب منار
٢٠. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (١٩٩٠ الی ٢٠٢١)
٢١. جام یا کلیان ( کلان)
٢٢. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
٢٣. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
٢٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
٢٥. چېر ته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معمارئ کې)
٢٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
٢٧. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
٢٨. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
٢٩. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
٣٠. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
٣١. هنر و پیشه حکاکې - زرگری در مرادخانی
٣٢. هیچ (چهل داستان واقعی)
٣٣. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ١٧ ماه میزان سال ١۴٠١ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
٣٤. ۴٠- چهل
٣٥. مجنون او ګلچېن (پښتو ناول)
٣٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
٣٧. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
٣٨. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



(جلد اول)

۳۹. برف ها آب میشود
۴۰. رسم و تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد سوم
۴۱. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
۴۲. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
۴۳. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
۴۴. د اسلامي معمارۍ پيل
۴۵. حیوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
۴۶. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
۴۷. د شپېلۍ مينه (مه ينه) په کچه ګړۍ کې (پښتو ناول)
۴۸. حشمت خان د کلا معماري
۴۹. د افغان الک او آذري جلۍ مينه (پښتو ناول)
۵۰. د وچو بڼونه او پارکونو معماري
۵۱. د يوې ښونکې مينان په يوه ټولګي کې (پښتو ناول)
۵۲. د ژرنده ګړي ماما مينه (پښتو ناول)
۵۳. په اسلامي نظام کې ودانيز پرمختک
۵۴. شپنه ادې (پښتو ناول)
۵۵. بې زده کړې پوی (پښتو ناول)
۵۶. د مينې تاو (پښتو ناول)
۵۷. (BIM) په خپله ژبه - په نړۍ کې تر ټولو نوې او ګړندۍ کړنلاره د معمارانو او اینجینیرانو(انجینرانو) له پاره
۵۸. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد سوم)
۵۹. سیدو او عیدو - د کوشنیوالي خوارہ ملګري (پښتو ناول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦٠. د يوې مياشتې ناوې (پښتو ناول)
٦١. دخاځکو هار (د يوه سړی لنډې کيسې)
٦٢. د کابل ښار اصلي معماري (مراد خانی)
٦٣. کوشنی سوداګره (پښتو ناول)
٦٤. د کابل ښار معماري - بي بي مهرو
٦٥. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
٦٦. ډارونکی سېلاب ( پښتو ناول)
٦٧. خواريکښ قاضي (پښتو ناول)
٦٨. د پخوانيو جوماتونو توپير د نن سره
٦٩. د مور وژونکی (قاتل)، (پښتو ناول)
٧٠. د مور مېره (پښتو ناول)
٧١. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خيرالله مخدوم (جلد چهارم)
٧٢. لېونی ملا (پښتو ناول)
٧٣. ځوان شهيد (پښتو ناول)
٧٤. توده برستن (پښتو ناول)
٧٥. نورک اکا (پښتو ناول)
٧٦. غريبک (پښتو ناول)
٧٧. د ژوند خوږې او ترخې (پښتو ناول)
٧٨. الماء [ديارلس کلنه فلسطینی انجلی تر نړېدلي ودانی (پښتو ناول)]
٧٩. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خيرالله مخدوم (جلد پنجم)
٨٠. ادبي لښتې / چوب ادبی
٨١. د ښاروالی کاريګر (پښتو ناول)
٨٢. د خاورو لاندې ښار (د عينک مسو کان ته څېرمه)
٨٣. شهری زير خاک (نزديک معدن مس عينک)

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېونی لېوه

...............


٨٤. ساختمان های کانتېنری

٨٥. کانتېنري ودانۍ

٨٦. Architecture of Buddist temple in Kabul city

٨٧. ښکلې هوسۍ (پښتو کیسه)

٨٨. خړه بیزو(پښتو کیسه)

٨٩. سور تنور(پښتو ناول)

٩٠. سپین کارغه (پښتو داستان)

٩١. لېونی لېوه (پښتو داستان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیونی لیوه
...............

**د کار لاندې کتابونو لېست**

۱. هنر خطاطی و میناتوری در مراد خانی
۲. هنر کلالی در مرادخانی
۳. بندي مرغه
۴. بې وخته باران
۵. د ژوند پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیونی لیوه
...............

## د امکان او وخت په صورت کې

۱. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
۲. تاریخ معماری افغانستان
۳. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شیطان چراغ
۷. خاطره ها

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Crazy wolf

Written by: Architect PHD Hashmatullah Atmar

Date: August – September /2027

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**